محمدابراهیم سپېڅلی ۲۰۲۶/۰۸/۲۱

# کندهاراو ننګرهار مې دوې سترګي

پوهاند علامه عبدالحی حبیبي رح د نورو افغانانو ترڅنګ پر ننګرهاریانو ګران او د " لوی استاد" په نامه یي ټولو لیکلو اثارو او هلو ځلو ته درناوی لري.

پوهاند صدیق الله ریښتین ته تر زیاتو ننګرهاریانو کندهاریان درنښت لري او د پښتو په ګرامر لیکنه کي یي په خورا ویاړ ستاینه کوي.

فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا هم د نورو هېوادوالو په شان د مشرقیوالو د زړه سر او ادبي فنون یي د نورو اثارو سره یوځای په اکاډمیک چاپیریال کي ډېر لوستونکي لري.

د پښتون فیلسوف استاد ګل پاچا الفت رح غوره نثرونه او شعرونه د کندهار پوهنتون د مجهز کتابتون ښایست او هر اثر یي د استادانو او محصلانو لخوا د مطالعي په موخه لاس پر لاس کېږي.
په کندهار کي به داسي کتابتون ونه وینې، چي هلته دي د مولانا قیام الدین خادم د زړه وینا او لوی اصحابان کتابونه پراته نه وي.

تاریخي ورځپاڼي" طلوع افغان" ته ددغه علمي کدر خدمتونه هم هر کندهاری په ویاړ یادوي.

اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد ته ننګرهاري فرهنګیانو د یوې پراخي غونډي پرمهال د " علامه" لقب ورکړ.

که چیري اوس د پښتو ژبي یاد ستوري ژوندي وای! نو د یو شمېر اوسمهالو تش په نامه پښتنو پر حال به یي ډېري اوښکي توی کړي وای! ځکه اوس په مجازي نړی کي د ګوتو په شمار د شهرت لیونیان د یو څو " لایکونو" لپاره ننګرهار او کندهار څه، چي آن خپله مور لا هم نه پېژني.

دا په داسي حال کي ده، چي لوی کندهار او لوی ننګرهار د افغانیت او پښتونولی دوه داسي " هارونه" دي،چي جلا کول یي لکه نوک او ورئ یوازي " کولابي خوبونه" دي او بس.

محمدابراهیم سپېڅلی/المان